AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ

۲۰۲۳/۰۷/۱۲

# د جمهوریت د سقوط عوامل
## د جنګسالارانو ونډه

(اولسمه برخه)




**تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۱۰)**

**په افغانستان کې سوله او د سولې عالي شورا جوړښت (۱)**

په افغانستان کې د سولې عالي شورا تر ټولو مهم بنسټ ؤ، د افغانستان د جمهوري نظام پایښت او نه پایښت په نوموړي شورا پورې تړلی ؤ، ښه به وي چې د نوموړي شورا پر څرنګوالي او کړنو باندې لږ مالومات ولیکو:

وړاندې له هغې چې د سولې عالي شورا جوړه شي د صبغت الله مجددي په مشرۍ (د سولې د ټینګښت) په نوم یوکمیسیون شتون درلود چې د حامد کرزي د یو فرمان پر بنسټ رامنځ ته شوی ؤ او د دولت له مخالفینو سره د خبرو واک ورکړای شوی ؤ، نوموړي کمیسیون په ځینو ولایتونو کې استازي هم درلودل، د سولې په نوم دغه کمیسیون څه د پام وړ کار ترسره نه کړای شو، هغه لږ شمېر کسان چې د طالبانو په نوم د سولې له کمیسیون سره یو ځای کېدل، ډېری یې د ځان ښودنې په موخه عادي خلک وو، زموږ په ولایت (خوست) کې مو ولیدل چې د سولې کمیسیون ولایتي مسؤل د امتیازاتو ترلاسه کولو په موخه، عادي کلیوال د طالبانو په نوم راټول او کابل ته راوستل، د کمیسیون مشر مجددي په دې فکر کې ؤ چې ربښتیا هم طالبان ورته تسلیم شوي دي، مجددي د خپلو کړنو په اړه ووېل چې د تېر یو کال په موده کې ۶۴۰ تنه منځ لاري طالبان د ملي روغې جوړې له بهیر سره یو ځای شوي دي.

صبغت الله مجددي چې د سولې د کمیسیون مشر او د سولې په لاره کې یې هڅې کولې، په خپله په ده باندې هغه مهال چې د خپل کاري دفتر پر لور روان ؤ یو ځانمرګی برید ترسره شو. (۱۳۸۴/۱۲/۲۱ل. ل)

له چاودنې لږ وروسته مجددي په یوه خبري غونډه کې د پاکستان د استخباراتو (آی، اس، آی) اداره تورنه کړه چې د ده د وژلو پلان لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مجددي چي د عادت له مخي توندي او بربنډې خبري کولي له برید وروسته یي پر پاکستان او طالبانو سختي نیوکي کولي، هغه وویل:«په لومړي ګام کي د ځانمرګو ماغزه، د پاکستان د استخباراتو اداري (آی، اس، آی) لخوا مینځل کیږي، وروسته د جهاد په نوم افغانستان ته لیږل کیږي. هغوی فکر کوي چي مخامخ به جنت ته ولاړ شي خو حقیقت دا دی چي هغوی مخامخ دوزخ ته ځي، داسي ځان وژنه چي نور خلک هم ووژني په اسلام کي جواز نه لري.
https://mandegardaily.com
صبغت الله مجددي په اتیایمه زیږدیزه لسیزه کي د ملي نجات په نوم د یو جهادي تنظیم مشر ؤ، نوموړی تنظیم د همدغي (آی، اس، آی) اداري په مرسته (د نورو جهادي تنظیمو په څېر) رامنځ ته شوی ؤ، هغه مهال د (آی، اس، آی) اداري مسؤلین د جهادي مشرانو لپاره د پرېښتو مقام درلود او تر ټولو نږدې دوستان یي بلل.
کله چي د سولي کمیسیون پر ځای، د سولي عالي شورا د حامد کرزي لخوا رامنځ ته شوه، صبغت الله مجددي د منازعاتو د حل کمیسیون مشر او هم مهاله د مشرانو جرګي مشر هم ؤ، ولسمشر کرزي د ۲۰۱۰ز، کال د جون په میاشت کي د سولي په موخه مشورتي لویه جرګه راوغوښته، په جرګي کي (۱۶۰۰) کسانو ګډون کړی ؤ، جرګي وړاندیز وکړ چي د حکومت له مخالفینو سره، د سولي په موخه دې د سولي عالي شورا جوړه شي.
هغه وو چي د ۱۳۸۹ل. کال د تلي په میاشت کي حامد کرزي د یو فرمان پر بنسټ د سولي عالي شورا جوړه کړه، له بده مرغه د شورا مشري یي د طالبانو پدري دېمن برهان الدین رباني ته وسپارله، شورا ۶۸ غړي لرل چي ۸ تنه په کي ښځي وې، د سولي عالي شورا له جهادي مشرانو او جهادي قوماندانانو، ملایان او هغو پخوانیو طالبانو څخه چي د دولت تر سیوری لاندي اوسیدل جوړه شوه.
نوموړي شورا په ولایتونو کي د سولي کمیټي جوړي کړي خو دوی تر پایه ونه شول کولی د طالبانو له یو تن لوړپوړي چارواکي سره په یوه مېز کېني. د سولي شورا، د سولي په لاره کي ستر خنډ د پاکستان حکومت باله، د سولي عالي شورا غړی محمد اسماعیل قاسمیار وایي چي کله موږ یو ګام وړاندي واخلو، پاکستان موږ دري ګامه شاته کوي، تر څو چي طالبان د پاکستان د نظامیانو له لاسه ونه وځي، فکر نه کوم په افغانستان کي سوله ټینګه شي.



له بلي خوا شورا ادعا کوله چي له ۱۱زرو ډېر وسله وال طالبان له سولي سره یو ځای شوي دي.
په داسي حال کي چي د سولي په نوم عجیبي او حیرانوونکي لوبي راوني وې، یوه لوبه داسي وه چي د غزني ولایت یوې وکیلي هما سلطاني پارلمان ته په یوه غونډه کي وویل چي ملا محمد عمر په کابل کي زما په کور کي میلمه دی، غواړي له حامد کرزي سره د سولي په موخه وګوري، نوموړي وکیلي پر دولت نیوکه وکړه چي دوه هفتي وړاندي یي حامد کرزي ته خبر ورکړی ؤ خو هغه څه توجه ونه کړه.
د ولسمشر حامد کرزي ویاند وحید عمر ومنله چي هما سلطاني او عبدالبصیر نومي ځانونه د ملا محمد عمر استازي معرفي کړي او له حامد کرزي سره یي لیدنه درلوده، ولسمشر له دوی وغوښتل چي له ملا عمر څخه یو لیک راوړي. دوی لیک راوړ خو له څېړلو وروسته ښکاره شوه چي لیک جعلي دی.
هما سلطاني د دې پوښتني په ځای کي چي تاسو دا موضوع له نړیوالي ټولني سره شریکه کړي ده؟ هغي وویل: هو! وړاندی له هغي چي موضوع له ښاغلي کرزي سره شریکه کړم، ما د امریکا له سفارت سره اړیکه ټینګه کړه، د امریکا د سفیر استازی (زک) نومی زما کور ته راغی او ما د ملا عمر استازی هم راوغوښت او دواړه زما په کور کي مخامخ سره کېناستل.
هما زیاته کړه چي ما امریکایي استازي زک ته وویل که سوله غواړئ د ملا عمر له استازي سره خبرې وکړئ. زک وویل: تاسو د سولي له عالي شورا سره په اړیکه کي شئ، موږ په یوازې ځان له چا سره مذاکره نه کوو.
هما وایي چي د ملاعمر استازي زک ته وویل چي موږ د سولي عالي شورا نه منو. زک وویل: دا پر تاسو پوري اړه لري. او ولاړ.
هما سلطاني دا هم وویل چي که ثابته شي چي دروغ یي ویلي دي هر ډول سزا ته چمتو ده.
هغه مهال چي خلک له دې موضوع خبر شول، ټول پوهیدل چي دا امکان نه لري چي د سولي په موخه ملا محمد عمر کابل ته راشي او بیا د یوې وکیلي په کور کي مېشت شي. دا چي د افغانستان جمهوري حکومتونه د رښتینو حکومتونو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي دلیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په خبر ځواکمن او زيرک نه وو، نو د دا ډول دروغو پلټنه يې نه کوله، هر چا به هر څه ويل او بې مسؤليته خبرې به يې کولې. په دې اړه يوازې د ملي امنيت وياند لطف الله مشعل د هما سلطاني ادعا رد کړه خو دا پوښتنه يې ترې ونه کړه چې په رڼا ورځ يې دومره لوی دروغ ولې ويلي دي؟
لږه موده وروسته هما سلطاني له دې هم وړاندې ولاړه، د ملا محمد عمر له مړينې وروسته يې دا هم وويل چې له اميرالمومنين ملا هبت الله سره دوامداري اړيکي لري، هغې زياته کړه چې د اسلامي امارت له لوري تضمين کوي چې د جنګي اسيرانو د تبادلې لپاره ځانګړی ادرس معرفي کولی شي. (arananews.co/news 17 قوس 1397)

نېټه: ۱۴۰۲/۴/۲۱ل. ل

**نور بيا**

[د ليکوال: آرشيف]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ